## لنډه پېژندنه

م. نجیب الله "حماد" د نقیب الله زوی د میدان وردګو ولایت د نرخ ولسوالۍ د څېن زائیو اوسېدونکی چې په ۲۵/۱۰/۱۳۷٤لمریز کال چې له ۱۹۹۵ سره سمون خوري په خپل ټاټوبي کې په یوه جهادي کورنۍ کې نړۍ ته سترګې غړولي.

**لومړنۍ زده کړې:**

لومړنۍ زده کړې یې د معین شهید او دوکتور عبدالوکیل په لیسو کې تر اووم صنف پورې تر سره کړي، او په ۲۰۰٦ کال چې له ۱۳۸٤ لمریز سره سمون خوري، حفظ شروع چې په ۲۰۰۸ کال باندې الله ﷻ په دې لوی نعمت چې د قرآن کریم حفظ ده وناز وه، د فنونو درسونه یې د وفاق المدارس د نصاب په ترتیب د هجرت په دیار کې په مختلفو مدارسو کې سرته رسولي دي، تر دې چې له جهادي خدمتونو سره سره د پاکستان پېښور بوډ "تاج آباد" په دار العلوم حبیبیه کې په ۲۰۱۸ کال چې له ۱۳۹٦سره سمون خوري په ممتاز سند فارغ شو.

**د نوموړي عالي تحصیلات او نورې زده کړې:**

م. نجیب الله د شرعي زده کړو ترڅنګ ځینې عصري زده کړې هم تر سره کړي دي؛ چې حسن خط، عربي، او کمپیوټر کې ښه بلدتیا یې د مثال په توګه یادولی شو.

همدا راز په ۲۰۲۰ کال چې له ۱۳۹۸سره سمون خوري د جامعې قاسمې اکوړه خټک د تخصص في الفقه والإفتاء او فقه والقانون څانګو څخه په ممتازو درجو کامیاب او بیا د یادې جامعې د مشر استاد مفتي حبیب الله القاسمي او نورو مشرانو استادانو حفظهم الله له لارښوونو سره سم د کابل ولایت د قرباغ ولسوالۍ په جامعه اسلامیه مدرسه کې د قاسمې د تخصص في الفقه والإفتاء څانګه خلاصه او د فتحې تر راتلو یې د جهادي خدمتو تر څنګ یوه دوه کلنه دوره مفتي صاحبان هم فارغ کړل، له فتحې وروسته د اسلامي نظام په خدمت بوخت چې یو نیم کال د وزارت معارف اړوند د معارف ښهري ریاست مربوط د پنځمې تعلیمي حوزې د امر په حیث دنده تر سره کړې، چې اوس مهال د علومو اکاډمۍ، اسلامي بانکوالۍ او معاصرو مسائلو څېړنیز مرکز کې د تجارتي مسائلو ډیپارټمنټ کې د علمي عضو په حیث خدمت تر سره کوي، چې له دې خدمت سره سره یې د دیني علومو د تدریس لړۍ هم روانه ساتلې ده.

**د نوموړي آثار:**

په مختلفو موضوعاتو کې یې لیکنې کړې دي چې د بیت المال او علم التخریج في الحدیث مقالې یې د یادونې وړ دي.